# د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت

## د ارشــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۸ / جمادى الثاني /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۱ / جدى /۱۴۰۲هـ، ش**

## د ښځې پر خپل خاوند او د خاوند پر خپلې ښځې شرعي حقوق

الحمد لله الذي جعل الزواج نعمة، وجعل بين الأزواج مودة ورحمة، وجعل أداء الحقوق بين الزوجين من الإيمان والصلاة والسلام على سيدنا محمد إمام الأئمة، وعلى آله وأصحابه هداة الأمة، أما بعد :

قال الله سبحانه وتعالى:{وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ}الروم : ۲۱

دشرعي نصوصو څخه په وضاحت سره معلوميږي چې نيکه معامله او ښه چار چلند د ميړه او ښځې ترمينځ د اسلام له غوره اخلاقو څخه دي چې د کورنۍ بنسټيزې اړيکې ساتي او د ښځې او خاوند ترمينځ اړيکې تنظيموي او اسلام د هر يو لپاره ځانګړي حقوق ټاکلي دي ترڅو کورنۍ نظام محکم او منظم وي.

که چيرې ښــځه او خاوند يو د بل حقوق رعايت کړي په کور کې به هيڅکله اختلافات نه وي او ددواړو ژوند به په پوره صميميت سره مخ په وړاندې ځي.

ښځه او خاوند يو پر بل زيات حقوق لري آن چې ځينو علماوو وايې چې د ښځې او خاوند يو پر بل (۵۷) حقوق دي چې زيات حقوق دخاوند دي چې دخاوند ځينې حقوق په لاندې ډول دي:

### د خاوند شرعي حقوق پر خپلې ښځې:

**۱- اطاعت او تابعداري:** پرښځه باندې د خاوند اطاعت فرض دی کله چې هغه ورته امر کوي او يا يې منع کوي دهغه د حکم منل پرښځه واجب دي ترڅو چې يې په معصيت ورته امر نه وي کړي.
خاوندانو لره الله په ښـځو فضـيلت او برتري ورکړې ده او خاوندان په خپلو ښــځو باندې مســلط او حاکمان دي او ښځې بايد دخپل حاکم اطاعت وکړي. الله تعالى فرمايي: {الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاء بِمَا فَضَّلَ اللّهُ بَعْضَهُمْ عَلَى بَعْضٍ وَبِمَا أَنفَقُواْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ}النساء : ۳۴
ترجمه:- سړي په ښځو باندې نګرانان دي په سبب ددې چې الله ددوی ځينې په ځينې نورو باندې غوره کړي دي او په سبب ددې چې دوی(سړي) له خپلو مالونو نه انفاق کوي.
په يو بل آيت کريمه کې الله تعالى فرمايي: {وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ}البقرة:۲۲۸

ترجمه:- او شته دی (ښځولره ) حق په شان د هغه حق چې پر دوی باندې مقرر دی (د سړیو لپاره) او شته دی سړیو لپاره درجه او الله ډیر غالب ښه حکمت والا دی.
عبدالله ابن عباس رضي الله ددې آیت { الرجال قوامون على النساء } په تفسیر کې وایې یعنې دوی پرښځو امراء دي او اطاعت دې وکړي دخپلو امراوو او دخاوندانو طاعت دې وکړي په هغه څه کې چې الله تعالی ورته ددوی داطاعت امر کړی دی او ددوی اطاعت دادی چې ښځې باید نیکې کوونکې وي دخاوندانو دکورنیو سره، او دخاوند د مال حفاظت دې وکړي.تفسیر ابن کثیر (١ / ٤٩٢)

امام جصاص رح ددې آیت په تفسیر کې وایې: الله تعالی په دې آیت کې فرمایې چې د ښځې او خاوند یو پربل حق لري مگر خاوند په خپله ښځه داسې خاص حق لري چې ښځه هغسې حق نلري.)

دخاوند په اطاعت کې دالله تعالی رضا پرته ده او دخاوند په نافرمانۍ کې د الله تعالی نافرماني پرته ده.

په حدیث شریف کې راځي: وعن عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم :(إذَا صَلَّتِ المَرأةُ خَمسَهَا، وَصَامَت شَهرَهَا، وَحَفِظَت فَرجَهَا، وَأَطَاعَت زَوجَهَا، قِيلَ لَهَا : أدخُلِي الجَنَّةَ مِن أيِّ أبوَابِ الجَنَّةِ شِئتِ) . رواه احمد

ترجمه:- له عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه نه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هر کله چې ښځه خپل پنځه گوني لمونځونه اداکړي او د رمضان د میا شتې روژه ونیسي او خپل عورت ( له حرامو) وساتي او د خپل میړه پیروي وکړي، ورته به وویل شي جنت ته داخله شه له هرې دروازې چې غواړې.

په یو بل حدیث کې راځی: عن الحصين بن محصن رضي الله عنه : أنَّ عَمَّةً لَهُ أتَتِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم في حَاجَةٍ، فَفَرَغَت مِن حَاجَتِهَا، فَقَالَ لَهَا النَّبِي صلى الله عليه وسلم «أذَاتُ زَوجٍ أنتِ ؟» قَالَت : نعم . قال : كَيفَ أنتِ لَهُ ؟ قَالَت مَا آلُوهُ إلاَّ مَاعَجَزتُ عَنهُ » قَالَ : « فَانظُرِي أينَ أنتِ مِنهُ ؛ فَإنمَّا هُوَ جَنَّتُكِ وَنَارُكِ). رواه احمد

ترجمه:- له حصين بن محصن رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې زما عمه د ر سول الله صلی الله علیه و سلم حضورته د یوه ضرورت په خاطر راغله او کله چې له خپل ضرورت څخه وزگاره شوه، نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: آیا میړه لرې؟ ویې ویل :هو - ویې فرمایل : د هغه سره ستا چلند او معامله څرنگه ده ؟ دې وویل حاجت یې پوره کوم مگردا چې د ده د حاجت د پوره کولو څخه عاجزه شم. ویې فرمایل : وگوره چې ته په کوم ځای کې له ده څخه موقعیت لرې ځکه هغه ستا جنت او ستا دوزخ دی.

د خاوند پر ښځه دومره زیات حق دی چې نبي علیه السلام فرمایلي دي که چیرې پرته له الله تعالی بل چا ته سجده کول جائز وی ما به ښځو ته امر کړی وو چې خاوندانو ته سجده کوئ.( لو كنتُ آمرًا أحدًا أن يسجدَ لأحدٍ لأمرتُ الزوجةَ أن تسجدَ لزوجِها) سنن الترمذي (٣/ ٤٦٥)

**٢- خپل خاوند ته ځان تسلیمول:** د خاوند پر ښځه بل حق دادی چې د شرعي حاجت(کوروالي) دپوره کولو لپاره ځان خاوند ته تسلیم کړي او چې کله خاوند ورڅخه تقاضا وکړي باید هغه تقاضا یې پوره کړي. که چیرې ښځې د خاوند د شرعي حاجت(کوروالی) پوره کولو څخه سرکشي وکړه ، په گناه کې پریوته او د گناه مرتکبه شوه. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَعَا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَأَبَتْ فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَيْهَا لَعَنَتْهَا الْمَلاَئِكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ). متفق عليه

ترجمه:- د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ر سول الله  صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي کله چې سړی راوغواړي خپله ښځه بستر ته او هغه انکار وکړ(پرته د شرعي عذر څخه) او خاوند يې پر هغې په قهر سره شپه تيره کړه ، ملائکې ورباندې لعنت وايي تر صباح پورې.

**۳- هغه چاته کورته دداخليدو اجازه نه ورکول چې خاونديې بد ګڼي:** دخاوند په خپلې ښځې داحق دی چې ښځه بايد هغه چاته کور دداخليدو اجازه ورنکړي چې خاوند يې کورته داخليدل بد ګڼي. په حديث شريف کې راځي:  عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ يَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ وَلَا تَأْذَنَ فِي بَيْتِهِ إِلَّا بِإِذْنِهِ). صحيح البخاري (۱۳/ ۱۴۹)

ترجمه:- دابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ښځې ته جايز نه دي روژه ونيسي– (نفلي روژه) په داسې حال کې خاوند يې په کور کې وي مګر د خاوند په اجازه به يي نيسي او جائز نه دي ورته چې چاته کورته دداخليدو اجازه ورکړي مګر دخاوند په اجازه.

په يو بل حديث شريف کې راځي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: (فَاتَّقُوا اللَّهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتمُوهُنَّ بِأَمَانِ اللَّهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللَّهِ وَلَكُمْ عَلَيْهِنَّ أَنْ لاَ يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ أَحَدًا تَكْرَهُونَهُ. فَإِنْ فَعَلْنَ ذَلِكَ فَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ). صحيح مسلم (۴/ ۳۹)

ترجمه:- وويريږئ دالله تعالی څخه د ښځو په باره کې بیشکه تا سې اخيستي دي  ښځې دالله تعالی په امان سره يعنې الله تعالی تاسې امين ګرځولی ياستې په ښځو باندې) او تاسو حلال ګرځولي دي ددوی شرمګاه لره په شريعت دالله تعالی سره، او  شته دی ستاسو لپاره په دوی باندې ددې خبری حق چې  ښځه به اجازه نه ورکوي هيچا ته  ددې خبرې چې استعمال کړي بستره  ستاسې هغه څوک چې تاسو يې بد ګڼی. ، که چيرې دوی داسې وکړل نو وه يې وهی چې سخت وهل نه وي.

**۴- پرته د خاوند له اجازت څخه به له کوره نه وځي:** د خاوند په  ښځه بل حق دادی چې دوی به پرته دخاوند د اجازې څخه له کوره نه وځي. الله تعالی فرمايې: {وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الأُولَى} الاحزاب: ۳۳

ترجمه:- او تاسو په خپلو کورنو کې قرار ونيسئ او تاسو د ړومبني جاهليت د زينت ښکاره کولو په شان زينت مه ښکاره کوئ.

په يو حديث شريف کې راځي:( إِنَّ الْمَرْأَةَ عَوْرَةٌ ، فَإِذَا خَرَجَتْ مِنْ بَيْتِهَا اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ). مسند البزار (۱/ ۳۲۵) صحيح ابن خزيمة (۳/ ۹۳) ترجمه:  ښځه عورت دی کله چې ووزي له کوره (بدون د محرم ) ورپسې شي  شيطان (چې ګمراه يي کړي).

که چيرې ښځه پرته دخاوند له اجازته له کوره ووتله ، خاوند کولی چې تاديباً يې ووهي.

البته که چيرې پلاره يې مزمن مريض وي او بل څوک دخدمت نلري دهغې د خدمت لپاره وتلی شي.

**۵- ښځې ته ادب ورکول:** که چيرې ښځه دخاوند له شرعي اوامرو څخه سرکشي کوي ، داد خاوند حق دی چې تأديبا يې ووهي خو شديد وهل نه. الله تعالی فرمايلي دي: { وَاللاَّتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلاَ تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلاً إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيراً} النساء: ۳۴

ترجمه:- او هغه ښځې چې تاسو د هغوی له نافرمانۍ نه ویریږی نو دوی ته نصیحت وکړئ او دملاستې په ځایونو کې ترې جدا شئ او وه یې وهئ نو که ستاسو خبره یې ومنله نو (بیا) ددوی په خلاف بله لار مه لټوئ ، بیشکه الله ډیر اوچت ډیر لوی دی.

که چیرې ښځه دخاوند اطاعت څخه سرکشي کوي خاوند باید ورته نصیحت وکړي، که په نصیحت ونه شوه کټ دې ورڅخه جدا کړي ، که چیرې په دې ونه شوه ودې وهې خو شدید وهل نه.

(وَقَدْ ذَكَرَ الْحَنَفِيَّةُ أَرْبَعَةَ مَوَاضِعَ يَجُوزُ فِيهَا لِلزَّوْجِ تَأْدِيبُ زَوْجَتِهِ بِالضَّرْبِ ، مِنْهَا: تَرْكُ الزِّينَةِ إِذَا أَرَادَ الزِّينَةَ ، وَمِنْهَا : تَرْكُ الإِْجَابَةِ إِذَا دَعَاهَا إِلَى الْفِرَاشِ وَهِيَ طَاهِرَةٌ . وَمِنْهَا : تَرْكُ الصَّلاَةِ ، وَمِنْهَا : الْخُرُوجُ مِنَ الْبَيْتِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ).

الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٥٩)

حنفي مجتهدین وایي چې خاوند په څلورو مواردو کې خپله ښځه تأدیبا وهلی شي: چې زینت نه کوي کله چې خاوند د زینت اراده لري، بل داچې همبستری څخه انکار کوي په داسې حال کې چې دحیض او نفاس څخه پاکه وي، بل داچې لمونځ ترک کوي، بل دا چې پرته له اجازته دخاوند له کوره وځي.

**٦- دخاوند خدمت کول:** دخاوند پر خپله ښځه حق دی چې خدمت یې وکړي چې دا خدمت مختلف ډولونه او مختلفې مرتبې لري لکه د سرمایه دارو خدمت، د متوسط ژوند خلکو خدمت او د کمزوري ژوند خاوند خدمت.

**٧- د خاوند سره نیکه معاشره او غوره سلوک :** دخاوند په ښځه دا حق دی چې له خاوند سره غوره رویه او نیکه معاشره وکړي.

**٨- دځان او دخاوند دمال حفاظت کول:** د خاوند په ښځه بل حق دادی چې د خاوند په غیاب د خپل ځان حفاظت وکړي، او همدارنګه د خاوند دمال حفاظت وکړي او بې ځایه ځای کې مصرف نه کړي.

٩- پر ښځه دخاوند بل حق دادی چې دخاوند پټ رازونه وساتي او هغه خلکو ته افشاء نکړي.

١٠- د خاوند بل حق دادی چې ښځه باید د خپل بد اقتصادي حالت شکایت نه خپلې کورني ته وکړي او نه یې دخاوند کورنۍ ته وکړي ، بلکې په هرحالت شکر وباسي او په بد حالت صبر وکړي.

**د ښځې شرعي حقوق پر خپل خاوند باندې:**

داسلام دراتګ نه مخکې دجاهلیت په زمانه کې دښځو نه دژوندانه حق سلب شوې ؤ او دښځو ټول حقوق تر پښو لاندې کیدل لکه دمیراث حق دملکیت حق داحترام اودعزت حق اوداسې نور او هغې ته به په سپک نظر کتل کیدل خو داسلام مقدس دین په راتګ سره دښځو ټول حقوق راژوندي اعاده شو او داسلام سپڅلي دین هغوې ته او چت مقام وروبښلو حتی چې په شرعی کارونو کې ئې ښځو او نارینه و ته یو ځاې په قرآنکریم کې خطاب کړی دی

الله تعالی دښځو پیدایښت پرانسانانو باندې یو لوې انعام وګرځولو او ښځې ئې دنارینه و لپاره دآرامی او سکون مصدر او پناه ګاه او ددوستی او مهربانۍ وسیله ګرځولي دي لکه چې الله تعالی فرمائی : {وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجاً لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ} الروم: ٢١

ترجمه:- اود هغه له نښو څنې دادي چې تاسو لپاره یې ستاسو له نفسونوڅخه جوړې پیدا کړي دي ددې لپاره چې

تاسو هغو ته(په مایله کیدو سره) سکون حاصل کړئ او هغه ستاسو په مینځ کې مینه او مهرباني پیداکړه بیشکه په دغو شیانو کې دی خامخا عبرت د هغه قوم لپاره چې ښه فکر کوي.

ښځه دانسانانو ترمنځ دنزدې والي او دوستۍ یوه مهمه وسیله ګرځولی ده. ده الله تعالی فرمائې:{وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاء بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهْرًا وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا} الفرقان: ٥٤
ترجمه:- او دی همغه ذات دی چې له اوبو نه یی انسان پیداکړی دی بیایې هغه (د) نسب او سخرګنی (والا) وګرځاوه او ستا رب ښه قادر دی.
الله تعالی ښځې هغه مخلوق ګرځولي دي چې په هغې باندې دنارینه و سترګو یخې او روښانه کیږي. الله تعالی فرمائې:{وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا} الفرقان: (٧٤)
ترجمه:- او هغه کسان دي چې وایې ای زمونږه ربه! ته مونږ ته زمونږ له ښځو نه او زمونږ له اولادونو نه د سترګو یخوالی را وبښه او ته مونږ دمتقیانو امام وګرځوه.

د ښځو د فضلیت او اهمیت په وجه الله تعالی ښځو لره په خپلو خاوندانو باندې یو شمیر حقوق مقرر کړي دي چې په جاهلیت کې یې شتون نه درلود او ځینې حقوق اوس هم په ځینو ټولنو کې نشته او غصب شوي دي چې د هغو حقوقو له جملې څخه ځینې په لاندې توګه دي:

**۱- د مهر حق:** دښځو د حقوقو څخه یو هم دمهر حق دی. مهر د پیغلې او کونډې دواړو لپاره واجب دی.

ښځې لکه دنورو حقوقو په څیر دمهر په اړه هم دتصمیم خاونده ده؛چې څومره مهر ټاکي البته چې اندازه به یې د لس شرعي درهمو څخه به کم نه وي.

د مهر کلمه عیناً په قرآن کریم کی نه دی ذکر شوی او دمهر کلمې پرځای ( صداق )-د صاد په فتحه یا کسره سره -استعمال شوی دی او صداق هغه مال ته ویل کیږي چې نارینه یې د دنکاح د عقد پرمهال ښځې ته ورکوي .د سورت نساء کې راغلي دي : ( وآتوا النساء صدقاتهن نحلة) النساء:۴ترجمه: او ورکړئ ښځو ته د هغوی مهرونه د ډالۍ په توګه.

خاوند مکلف دی چې د ښځې مهر مکمل او پرته له کموالي اداء کړي .میړه حق نه لري چې د دې له مهر څخه څه د ځان لپاره واخلي مګر د ښځې په اجازه او خوښۍ سره .

هغه مهم ټکی چې د دغه مبارک آیت نه استنباطیږي:

**الف** - مهر (صداق) د ښځې په وړاندې د نارینه د رېښتینې څرګندونه کوي. ځکه صداق د صدق له مادی نه اخستل شوی دی.

**ب** - د (هن) ضمیر په ترلو سره دا جوتوي چې مهر خپله په ښځه پوری تړاولري ، نه پلار، مور او ورور او مهر د پلار لپاره د لور د لویولو په مقابل کې مزدوري نه ګڼل کیږي

**ج**- د (نحلة) کلمه چې په آیت کې ذکر شوی ده ، د انکته روښانه کوي چې مهر پرته له ډالۍ او عطیې څخه بل مفهوم نلري او په دې سره هغه ګومان ردوي چې مهر د انجلۍ قیمت دی.

د کونډې د مهر په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین فرمان داسې صراحت کوي:( له نوي خاوند څخه د مهر اخیستل د کونډې شرعي حق دی).

**۲- د نفقې حق:** د ښځې په خاوند باندې دوهم حق نفقه ده. دامت د فقهاوو او علماوو په دې اجماع ده چې د ښځو لپاره پر خاوندانو نفقه واجب ده په دې شرط چې د خاوند په کور کې وي او ځان یې خاوند ته سپارلی وي او که چیرې کومه ښځه نا منونکې وه او سرکشه وه او دسرکشۍ په وجه د خاوند له کوره بیرون اوسیږي بیا د نفقې مستحقه نه ده .

اسلام مبارک دین د ښځې نفقه په خاوند ځکه واجب کړې ده چې د نکاح په وجه ښځه دخاوند په خدمت کې مصروفه وي او پرته له حاجته او پرته د خاوند د اذن څخه بیرون ته د کسب لپاره له وتلو څخه ممنوع ده نو اسلامي شریعت یې نفقه په خاوند واجب کړې ده. دښځې په خاوند د ښځې نفقه د خاوند د توان په اندازه واجب ده ولو که ښځه غني وي.

الله جل جلاله فرمایلي دي: {وَالْوَالِدَاتُ يُرْضِعْنَ أَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ أَرَادَ أَنْ يُتِمَّ الرَّضَاعَةَ وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ وَكِسْوَتُهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ لَا تُكَلَّفُ نَفْسٌ إِلَّا وُسْعَهَا لَا تُضَارَّ وَالِدَةٌ بِوَلَدِهَا وَلَا مَوْلُودٌ لَهُ بِوَلَدِهِ وَعَلَى الْوَارِثِ مِثْلُ ذلک} البقرة: ۲۳۳

ترجمه:- او میندې دې خپلو اولاد ته پوره دوه کاله تی ورکوي (داحکم) دهغه چا لپاره دی چې د تی ورکولو موده پوره کول غواړي او دچا لپاره چې بچی دی په هغه باندې ددغو (ښځو) نفقه ده او ددوی جامه ده په ښې طریقې سره هیڅوک هم مکلف کولای نشي مگر د هغه د وس سره سم ضرر دې ونه رسول شي مورته د هغې د بچي په وجه او نه د بچې پلار ته د هغه د بچي په وجه او په وارث باندې ددې په مثل لازم دي

په یو بل مبارک آیت کې راځي:{ لِيُنْفِقْ ذُو سَعَةٍ مِنْ سَعَتِهِ وَمَنْ قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ فَلْيُنْفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا مَا آتَاهَا }الطلاق:۷

ترجمه:- د پراخي والا دې له خپلې پراخۍ نه خرچه وکړي او هغه څوک چې په هغه باندې رزق تنگ کړی شوی وي نو هغه دې له هغه (مال) نه څه خر چ کړی چې الله ده ته ورکړی دی.

په نفقه کې دخاوند حالت ته کتل کیږي. په فتاوی عالمگیري کې راځي:( وفي ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ يُعْتَبَرُ حَالُ الزَّوْجِ في الْيَسَارِ وَالْإِعْسَارِ). الفتاوى الهندية (۱/ ۵۴۸) ترجمه:په ظاهرالروایت کې راځي چې حالت د خاوند معتبر دی په مالدارۍ او غریبۍ کې.

په حدیث شریف کې راځي: عن معاوية بن حيدة رضي الله عنه قال: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ! مَا حَقُّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ؟ قَالَ أَنْ تَطْعَمَهَا إِذَا طَعِمْتَ، وَتَكْسُوَهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ، وَلاَتَضْرِبِ الْوَجْهَ، وَلاَ تُقَبِّحْ، وَلاَ تَهْجُرْ إِلاَّ فِيْ الْبَيْتِ). رواه ابوداود و ابن ماجه

ژباړه:- له معاویه بن حیده رضي الله عنه څخه روایت دی وایي:ومې ویل ای د الله رسوله ! زموږ د یوې ښځې په میړه څه حق دی ؟ویې فرمایل :دا چې هغې ته خوراک ورکړې کله چې ته په خپله خوراک کوې او هغې ته جامه ورکړې کله چې ته په خپله جامې اغوندې او هغه په مخ ونه وهې او بدشکله یې نه کړې او له هغې نه بیلتون ونکړې مگر په کور کې.

په یو بل حدیث شریف کې راځي:عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ يُضِيعَ مَنْ يَقُوتُ )مسند أحمد (۱۱/ ۴۲۴)ترجمه: د عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه

روایت دی هغه وایې چې ماد رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې: سړي ته دومره ګناه بس دی چې ضایع کړي هغه څوک چې نفقه یې دده په غاړه وي.

په ښځه او اولاد باندې نفقه کول لوی اجرلري. په صحیح مسلم کې یو حدیث دی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (أَفْضَلُ دِينَارٍ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ دِينَارٌ يُنْفِقُهُ عَلَى عِيَالِهِ.) صحيح مسلم

ترجمه:- غوره دینار هغه دینار دی چې نفقه کوي یې سړی په خپل عیال باندې چې په عیال کې ښځه او اولادونه ټول شامل دي

**۳- مسکن (د اوسیدوځای):** دښځې په خپل خاوند داحق دی چې دهغې لپاره مسکن او داوسیدوځای آماده او تیارکړي، البته مسکن به د سړي د توان او اقتصادي وضعیت ته په کتو سره وي.په دې باره کې الله تعالی فرمایلي دي: {أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنْتُمْ مِنْ وُجْدِكُمْ } الطلاق: ٦
ترجمه:- تاسو دا ښځې ( په عدت کې ) د خپل طاقت سره سم د هغه ځای په څه حصه کې واوسوئ چې تاسو (په کې) او سیبږی .
**۴- دښځو ترمنځ عدالت رعایتول:** د ښځې د حقوقو څخه داهم ده چې که چیرې خاوند یې له یوې څخه زیاتې ښځې ولري د شپې په تیرولو کې باید د دوی تر منځ عدالت وشي .څوک چې له یوې څخه زیاتې ښځې ترڅلورو پورې ولري دهغوی ترمنځ د شپې په نوبت کې ، نفقه ، لباس او مسکن کې باید عدالت رعایت کړي. دشپې دنوبت تیرولو، مسکن ، نفقه او لباس د ښځو هغه حقوق دي چې دانسان دتوان څخه پورته نه وي.
الله تعالی فرمایلي دي:{وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلَا تَعُولُوا} النساء:۳

ترجمه:-که چیرې تاسو ددې څخه ویره لری چې د یتیمانو ښځو په نکاح کولو سره به انصاف ونه کړی، پس په نکاح کړئ نورې هغه ښځې چې ستاسو خوښې وي دوه دوه، دری دری، څلور څلور، که چیرې ددې څخه ویریږی چې له یوې څخه د زیاتو ښځو په منځ کې به عدالت تامین نه کړی بیا یوه ښځه په نکاح کړئ او یا هغه وینزه په نکاح کړئ چې ستاسو په لاسونو کې دي،دا حکم دې ته نږدې ده چې تاسو به ظلم ونه کړی.

په یو بل آیت کې الله تعالی فرمایلي دي:{وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلا تَمِيلُوا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوهَا كَالْمُعَلَّقَةِ وَإِنْ تُصْلِحُوا وَتَتَّقُوا فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُوراً رَحِيماً} النساء:(۱۲۹)

ترجمه:- او تاسوهیڅکله نشي- کولای چې پوره عدالت تامین کړی د ښځو په منځ کې اګرکه ډیر حرص هم ولری، بیاهم مکمل یوې ښځې ته (اختیاري) میلان مه کوئ داسې چې بله ښځه معلقه وساتی چې نه یې په نکاح کوی او نه ورته طلاق ورکوی، که چیرې تاسو صلح وکړی او له الله وویریږی بیشکه الله تعالی دی بښونکی مهربانه.

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:( مَنْ كَانَ لَهُ امْرَأَتَانِ يَمِيلُ لِإِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَحَدُ شِقَّيْهِ مَائِلٌ) سنن النسائي بشرح السيوطي وحاشية السندي (۷/ ۷٤)

ترجمه:- ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دی؛ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: دچا چې دوه ښځې وي او یوې ښځې ته د بلې په نسبت (اختیاري) میلان کوي د قیامت په ورځ به راشي او یو بازو به یې کوږ وي.

پاته دې نه وي په نصـــوصـــو کې چې د کوم میلان څخه ممانعت راغلی دی، دهغې څخه اختیاري میلان مراددی؛ ځکه په غیر اختیاري میلان کې مواخذه نشـــته. د حنفي مذهب ځینې علماء په دې نظر دي چې د ښـــځو ترمنځ عدالت مراعتول واجب دی.

علامه کا ساني رحمه الله فرمایي: ددغه م سائلو له جملې څخه یو هم د ښځو ترمنځ د عدالت د وجوب مو ضوع ده. خلا صه داچې که څوک له یوې څخه ا ضافه ښځې ولري پرهغه واجب دي چې دهغوی ترمنځ د شپې په نوبت کې، نفقه او لباس کې عدالت مراعت کړي. تر دې پورې چې که دچا دوه آزاده ښځې وي او یا هم دوه وینزې ولري پرده واجب دي چې ددوی ترمنځ دشـــپې په نوبت کې ، نفقه کې ، مســـکن کې ، خوراک او څښـــاک کې عدالت مراعت کړي. بدائع الصنائع (۲/ ۳۳۲)

همدا رنګه د ښـــځو دحقوقو په اړه د امیر المؤمنین ځانګړی فرمان داســـې حکم کوي: (کوم څوک چې متعدد ودونه ولري، مکلف دی چې ټولو ښځو ته د شرعي حکم سره سم شرعي حقوق ورکړي او ترمنځ یې عدل ورکړي).

**۵- لباس او جامې:** د ښـځو په خپلو خاوندانو داحق دی چې په اوړي او ژمي کې خپلو ښـځو لپاره لباس واخلي او په دې خبره د علماوو اجماع ده. په لباس کې کمیس او پرتوګ او څادر او دپښو پیزار شامل دي او باید چې د ښځې د قد وقامت په اندازه وي او ټول بدن یې ورباندې پټ شي.
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (ولهن علیکم رزقهن وکسوتهن بالمعروف).صحیح مسلم
ترجمه:- او شته دی ښځو لره په تاسو باندې ددوې رزق او ددوي جامه په نیکه طریقې سره.
او واجب داده چې لباس ورته د موســـم په پیل کې چمتو کړي .داســـې نه چې نیم ژمې تیر شي او بیا ورته د ژمي لباس واخلي.

امام کاساني وایي:( وَإِنَّمَا كانت النَّفَقَةُ وَالْكِسْوَةُ بِالْمَعْرُوفِ لِأَنَّ دَفْعَ الضَّرَرِ عن الزَّوْجَيْنِ وَاجِبٌ ) بدائع الصنائع (٤/ ٢٤)

ترجمه:- نفقه او جامه په نیکه طریقه سره باید ځکه وي چې دفع د ضرر د ښځې او خاوند څخه واجب دي.

جامه باید خاوند د خپل وس او توان په اندازه وي ، که چیرې مالداره وي باید ښه او قیمتي جنس ورته واخلي او که چیرې دخاوند اقتصادي وضعیت یې متوسط ؤ باید متوسط جنس ورته واخلي او که غریب ؤ ګذاره حاله دې ورته واخلي.

**٦- نیکه معاشره او غوره سلوک:** باید خاوند د ښـځې سره په ډیره ښـه او نیکه طربقې سره دې ورسره چلند وکړي او نباید ښځې ته د رټنې او زړه بدوالي خبرې وشي او یا ورڅخه مخ وګرځوي او نباید پرته له کوم امله تندی ورته تریو کړي او یا یې مخ زخمي کړي او بد اخلاقي ورسره وشي .

که چیرې له ښځې څخه کومه اشتباه وشي باید خاوند سترګې ورباندې پټې کړي او له ګذشت څخه کار واخلي.

د ښځې حق دی چې خاوند دښځې د خوشالۍ او خوښۍ په خاطر په وینا او کړنه کې نرمي اختیار کړي، خاوند باید په کارونو کې د ښځې سره مشوره وکړي او کوښښ دې وکړي چې رضایت یې ترلاسه کړي.

الله جل جلاله فرمایلي دي: {وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللَّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا} االنساء: ١٩

ترجمه:- او له دوی سره په نیکه طریقه ګذران کوئ نو که دوی ستا سو خو ښې نه وي نو کیدای شي چې تا سو به یو شـــی بد ګڼی او الله به په هغه کې ډیر زیات خیر ایښـــی وي.الله تعالی فرمايي : {وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ} البقرة : ۲۲۸

په حدیث شریف کې راځي: ٠عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال ر سول الله صلى الله عليه و سلم : ا ستَو صُوا بِالنُّساءِ ؛ فَإنَّ المَرأَةَ خُلِقَت مِن ضِلَعِ، وَإنَّ أعوَجَ شَيءٍ فِي الضِّلَعِ أعلاهُ ؛ فَإن ذَهَبتَ تُقِيمُهُ كَسَرتَهُ، وَإن تَرَكتَهُ لَم يزَل أعوَجَ، فَاستَوصُوا بِالنُّساءِ) . متفق عليه

ترجمه:- له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رســول الله صــلی الله علیه وســلم وفرمایل : د ښـځو په هکله د خیر او ښـیګڼې توصـیه وکړئ، ځکه ښـځه د پوښـتۍ له هډوکې څخه پیدا شـوې ده او بیشـکه ډیره کږه پو ښتۍ کې هغه ، هغه پورتنۍ وي که غواړې چې سمه او نیغه یې کړې، نو ماته به یې کړې او که په خپل حال یې پریږدې، نو کږه پاتې کیږي، نو ښځوته په نیکۍ توصیه کوئ.

په یوبل حدیث شریف کې راځي: عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : لاَ يفرَكُ مُؤمِنٌ مُؤمِنَةً ؛ إن كَرِهَ مِنهَا خُلُقاً، رَضِي مِنهَا آخَرَ) . رواه مسلم

ترجمه:- له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: رســول الله صــلی الله علیه وســلم وفرمایل: باید مؤمن ســړی د مؤمنې ښــځې څخه نفرت ونه لري . هرکله که یو خوی یې د دې خوښ نشي_ یو بل خوی به یې خوښ راشي .